د ځانځانی پایله
No. 7

پاملرنه! کتابونه زموږ او ستاسي تل پاتې ملګري دي،
نو د کتابونو ښه ساتنه زموږ د ټولو دنده ده.

PROPERTY OF ACKU 12557

یادونه

دشانتي رضاکاره ټولنه وياړي چې د خپلو نورو ټولنيزو او ښوونيزو خدمتونو په لړ کې د افغان ماشومانو د ذهني او اخلاقي سالمې ودې لپاره د کيسه ايزو کتابونو په چاپولو پيل کوي.

داچې دکيسو ويل دماشومانو (کمکيانو) په ذهني وده، اخلاقي روزنه داستعدادونو په غوړېدو، دلغتونو دزېرمې په پياوړتيا او دهغوی د معلوماتو په پراختياکې خورا ارزښت لري، نو ځکه مونږ لويان، والدين او ښوونکي هڅوو او سپارښتنه کووچې ماشومانو ته وخت په وخت اخلاقي او روزنيزې کيسې ووايې.

دياد ولو وړه ده چې زمونږ چمتو شوې کيسې ټولې افغاني کيسې دي او په افغاني ټولنه کې د پخوا څخه موجودې او تر اوسه دخلکو په منځ کې په دود يزه توګه ويل کيږي.

دادی په دې لړکې د(دځانځانی پايله) کيسه په انځوريزه بڼه نازولوماشومانو ته وړاندې کوو. هيله ده چې ګلالي ماشومان دغه کيسه په مينه، مينه ولولي، خوند اوګټه ترې واخلي. مونږ به ګرانو کمکيانو ته چې دسبا ټولنې مشران دي دغه ډول نورې روزنيزې کيسې هم ډالۍ کړو.

په مينه

دشانتي رضاکاره ټولنه

(SVA)

PROPERTY OF ARIC KABUL

د دوبي په توده هواکې چې فصلونه مخ په پخېدو وو

زه په خپل باغ کې ناست وم د فصل ننداره مې کوله -

چې د مرغيو يو سيل د فصل
څخه راوالوت او...

زمونږ د باغ په يوه ونه
کي کېناست.

مرغيو خوشحالي كوله او په خپله ژبه داسې يو دبل

سره ګړېدلې چې ښايسته زوږيې جوړکړی و.

لږ وروسته په همدغه ونه کې په جګړه کې ښکېل شوې.

پداسې حال کې چې یو دبل نه یې غېږاخیستې وه ،
دپنډوس غونډې دواړه د ونې نه څمکې
ته په راغورزېدو شوې.

او پیشو د مرغیو دنیولو لپاره ځان جوړ کړ،

دمرغیو د راغورزېدو سره سم پیشو پرې ورټوپ کړاو...

دواړه یې په خوله کې ټینګې ونیولې.
پیشو مرغۍ په خوله د باغ یوې څنډې ته لاړه.

د مرغیو وزرې یې ددې لپاره ماتې کړلې چې وانه لوزي.
مرغۍ چې الوتلای نه شوې او په ځمکه ناستې وې.
دځانونو دژغورلو لپاره یې پیشوته ډېر عذر او زاري وکړه.
خو پیشو ونه منله، بیایې دواړه په خوله کې ونیولې.

او دباغ بلې څنډې ته لاړه.

هلته يې دواړه مرغۍ وخوړلې.

پیشو مړه شوه او خوشحاله
د سورې لاندې پرېوتله

پوښتنې :

۰۱ بابا چېرته ناست و ، او د څه شي ننداره يې کوله ؟

۰۲ د مرغيو سيل په کوم ځای کې کېناست ؟

۰۳ ولې دوه مرغی د ونې څخه لاندې وغورزېدلې ؟

۰۴ څه شی مرغی په خوله کې ونيولې ؟

۰۵ په پای کې پيشو څه وکړل ؟

د شانتي رضاکاره ټولنې پروګرام

خپرونکې اداره: د شانتي رضاکاره ټولنه (SVA)

د کتابتون څانګه د شانتي رضاکاره ټولنې کارکوونکي.

کتنپلاوی: حبيب الله زړه سواند (شينواری) پوهنيار عبدالوحيد ، پوهنيار عبدالرشيد ، پوهيالی علاوالدين ، پوهيالی يار محمد ، نقيب الله او استاديار محمد (کوچی)

د چاپ اجازه: د ښوونې او روزنې وزارت او دننګرهار د پوهنې رياست

انځورګر: استاد حميد

د چاپ ځای: پبلك آرټ پريس ، پيښور فون: ۲۱۲۵۸۹

د چاپ کال: ۱۳۸۲-۲۰۰۴

پته: د ښوونې او روزنې پوهنځي شاته ، دوهمه کوڅه ، دريم کور

د شانتي رضاکاره ټولنې دفتر ، جلال آباد - افغانستان

د سټلايټ لمبر: ۸۷۳۷۶۱۹۳۳۵۴۷ .. د موبايل لمبر ۲۲۲۴۱۴-۰۹۳۷۰ ..

PROPERTY OF ACKU 12557

د چاپ او نور ټول حقوق خپرونکي (SVA) ته خوندي دي

All rights reserved No part of this book may be reproduced or transmitted in any form or by any means without Permission from the publishers Copyright © Shanti Volunteer Association (SVA).

Shanti
Volunteer
Association



The Result of Schism

Supported by: WCRP Women's Committee

Printed by: Public Art Press, Peshawar Tel: 091 - 212589